ډاکټر نبي مصداق ۲۰۱۵/۰۹/۱۸

# طالبان د تاریخ په دوره کې

ما ځو ورځې مخکې د «ملا محمد عمر سره خبرې» تر عنوان لاندې، دې وطن پالونکې سایټ، ته د خپلو خاطرو یوه مختصره برخه د دې ویب پاڼې له اوریدونکو سره شریکه کړه او د نشر لپاره ولیږله چې له دوی نه په مننه هغه یې خپور کړ،( وګورئ دغه لینک طالبان د تاریخ په دوره کې)
زمونږ تاریخونه تر اوسه د پاچاهانو او ځینو مهمو کسانو په کار نامو لیکل شویدي. عادي خلک او داچې څه ډول ژوند یې درلود او په څه به مشغول وو، مونږ د هغو په باب ډیر کم معلوات لرو. د تیرو دو پیړیونه را پدیخوا چې سواد مروج شوی، ضروري ده چې راتلونکو نسلو لپاره تولنیز تاریخ ولیکو او دا ډول تاریخ د خلکو له کړو وړو نه لیکل کیږي او دا چه یوه ډله او شخص لکه طالبان او د هغو مشر بیا شیږ کاله حکومت وکړي زمونږ د تاریخ یوه دوره ګڼل کیږي، بیا تاریخ د هغو (لکه د نورو چې دا ۳۸ کاله راغلي او تللي دي) په هکله، بې له دې چې ورباندې رحم وکړي قضاوت به کوي.
زما د خاطرو دا لنډه برخه د یو چا، د (غ، حضرت) په نوم د خاصې توجه وړ ګرځیدلې او ځان ته یې په زحمت سره یو څه ورباندې لیکلي چې غواړم د هغه په ځینو ټکو لنډ مکس وکړم. ( زه په رښتیا هم د انټرنتي مجادلو لپاره ډیر وخت نلرم او دا به زما وروستي لیکنه په دې موضوع وي.)
ښاغلی غ، حضرت د شک په سترګه د ملا صاحب ځیرک توب ته ګوري اوزما دا او نورې برخې لیکنه په تحریف شوي ډول را نقلوي او لیکي: « ښاغلی مصداق ادعا کړیده چه نژدې یو ساعت ئې د لوی! (ندایه زما نه ده) ملا سره باندار یا رسمی مصاحبه تر سره کړیده او همدارنګه ادعا شویده چه مُلاساب دومره ځیرک او د تمرکز خاوند ؤ چه لمړی ئې زما اوږدې پوښتنې اوریدې او وروسته ئې په منظمه توګه او سره سینه زما پوښتنو ته ځواب وایه»
د ښاغلی غ. حضرت لیکنه لطفاً دلته کلیک کړی، د ښاغلی مصداق سره د زړه خواله
« زه
به تاسې او ګرانو لوستونکو ته بلنه درکړم چه د ( روهی) په سایت کی یوه میاشت مخکی یو فایل اینبول شوی ؤ (چه اوس هم حتماً د آرشیف په برخه کی موجود دی) کولای شی دا فایل واوری او بیا د ملاساب پر یوه قضاوت وکړی»
داسې معلومیږي چې دې ورور د طالبان له هیڅ کوم مشر سره نه په هغو شپږ کالو کې چې په قدرت کې وو او نه هم په دې ورستیو کالو کې، لیدلي او یا هم خبرې کړې وي. دا د ټولو لوړ پوړو طالبانو او هم د پښتنو د مشرانو عادت دی چې د میلمه خبرې په دقت سره اوري او بیا ځواب ورکوي. بل داچې زما ملاقات له لوی ملا صاحب سره «ادعا» نه، یو واقعیت او حقیقت دی. بل دا، که ملا صاحب ځیرک نوی او تمرکز فکري یې نه درلودی نو څنګه به هغه د یوه عادي قوماندان په څیر د هیڅ نه داسې لوی تحریک جوړاوه او څنګه به هغوی حاضری دل چې د خپلو د زرهاو سرونو په په قرباني سره د هغه امر په ځای کاوه؟
ښاغلی غ، حضرت بیا زما دا خبرې تحریفوي لیکي: (مصداقً) « د خپل شخصی تحلیل په ضمن کی ئې ادعا کړیده چه مُلاساب د شمال د ځینو ځانګړو حلقو ځینی شوم اهداف د خنډ سره مخامخ کړه، مانا نومړو حلقاتو یا کړیو غوښتل چه د هیواد د شمال ځینی سیمی د کوم بل شمالی همسایه هیواد سره ملحق او زمونږ هیواد د تجزئې پر لور سوق کړی چه مُلاساب پخپل پاڅون ددې ناوړه اقدام مخه ونیول او هیواد ئې د تجزئې څخه وژغوری» ما په خپله لیکنه کې د شوروي وروستي د بهرنیو چارو وزیر، اډوارډ شاورنتزه او فرانسې د وخت صدراعظم مثال ورکړی چې هغو د افغانستان د تجزیه مینه وال وو، او بیا د روسانو له ماتې نه وروسته د امریکې یوه پخواني سفیر په هند کې دا غوښتنه د امریکې له حکومت څخه وکړه او هم د کالیفورنیا کانګرس یوه غړي، راره باکره، د بیلتون پالو له مشرانو سره د تجزیه په پلانو په برلین، ملسکو او نورو ځایو کې خبرې کړیدي. حسن شرق هم په یوه اوږده مضمون کې (مضمون حسن شرق عنوانی« آغاز و انجام حکومت انتقالی در افغانستان»، منتشرهٔ سایت دعوت و افغان، جرمن، آنلاین) چې شوروي جنرال و رانیکوف چې د ډاکټر نجیب سلا کارهم وو، هغه دې ته هڅاوه خو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

وايي، ده د صدراعظمي نه ځان ايستلو يو دليل هم دا وو چي عملي کولو ته يې ليوال نه وو. دا ټول اوس زمونږ د روان تاريخ يوه ليکل شوی برخه ده او که ته يې نه مني نو دا ستاسو خپله تصميم دی.
د طالبانو دا لاس ته راوړنه هغه څه دي چي د دوی مخالفين هم ورڅخه انکار نشي کولی او زمونږ په تاريخ کي به د هغو د ښو او ملي کارنامو په جمله کي شميرل ګيږي. همداسي کلک دريځ وو چي مخالفين يې بيا تر شپږو کالو پوري، بی له احمد شاه مسعود نه، د هغو مخي ته ونه دريدل. دا چي اوس د طالبانو په نوم څه ظلمونه او تيری کيږي په هيڅ صورت د برآت وړ نه دي.
بل ځای هم ښاغلی غ. حضرت زما خبري تحريفوي او ليکي، « ښاغلی مصداق ادعا کوی چه کله چه می د ملاساب نه وپوښتل چه ځينی خلک( !!!!! ) ( ندابی زما نه دي) داسی فکر کوی چه ګواکي طالبان د پاکستان د استخباراتو لخوا را منځته شويدی خو ملاساب په جواب کی راته وويل چه زه ددې تحريک مشر يم او ما تر اوسه د کوم هيواد د جګ پوړو ( !) چاراواکو سره ندی ليدلی، ( مانا خلګ غ خوری چه دا خبری کوی)»
بايد ووايم چي ما په خپل تحليل کي دا پوښتنه داسي مطرحه کړي ده: يوه بله پوښتنه چي ما ورڅخه وکړه او اوس په هغه موضوع ډيري تبصری کيږي هغه دا وه چي « خلک وايي تاسو د پاکستان استخباراتو او نورو ملکو پټو دستګاوو سره اړيکي لری. ملا صاحب وويل چي زه د دې تحريک مشر يم او درته وايم چي تر اوسه ما له هيڅ خارجي سره ندي ليدلي».دا ځواب هغه ماته دوه نيم کاله وروسته له دې چي طالبان په قدرت راغلي وو راکړی ؤ.
ښاغلی غ، حضرت فلسفي ته توسل کوي او داسي وايي: « د انسانيت بناوی دوی دی. که د هر انسان فرهنګ، مذهب، ايديولوژی، سياسی افکار، ملی او قومی تګلياره، اجتماعی او فردی عمل او خلاصه هر څه لدې دوو بناوو سره په ټکر کی وی هغه انسان د فلاح او نجات څخه بې برخی دی. دا دوې بناوی عبارت د فطرت او عقل څخه دی»
فطرت ډير جامع کانسيپټ دی چي د انسان ټول کړه وړه په شمول د عقل توانايي پکي نغښتی دي. په پورته مثال کي که فرهنګ د مذهب په مقايسه فطري وبولو نو ايډيالوژي او سياسي افکار، ملی او قومی تګلياره، کوم يو فطري دي؟ او بيا که « که د هر انسان... لدې دوو بناوو سره په ټکر کی وی ...» کومو دؤ؟ دلته زما لپاره ښه وضاحت ندی شوی. څکه عقل کولای شو د فطري توانايي برخه وبولو.
له دې وروو څخه مننه کوم چي زما په باب ليکي: « ستاسی د سِن مشرتوب او د تحصيل او سواد سطحه ما او هر افغان ته د قدر او درناوی وړ ده... تاسی شل کاله مخکی د لندن د سلطنتی راډيو ( بی بی بی سی) په تشکيلاتو کی په رسمی توګه مأموريت او مکلفيت درلود... خو اوس چه د تقاعد په توګه د نوموړی سلطنتی راډيو څخه ګوښه ياستی هيڅ ضرورت نلری چه بياهم دې مغلق سياسی او اجتماعی پديدو ته په همغه رسمی نظر وګوری او که بيا هم مسائلو ته په پخوانی ( کاری) نظر تحليل وراندی کوی نو معنی به ئی دا وی چه د رسميت څخه لا نه ياست فارغ شوی».
زه بايد دې وروته ووايم چي په ۱۹۷۹ کي ما په خپله دوکتوری کار کاوه او هم مي په هماغه پوهنتون کي تدريس کاوه، خو د روسانو په يرغل سره زه له ډيرو کمو افغانانو څخه يم چي درس مي پريښود او د وطن خدمت ته مي داسي ملتي را پورته کړی چي نن يي په مليونو افغانان يادونه کوي او هره ورځ ما په دې کابل کي د هغو مرکو او پروګرامونه چي مي جوړل او وړاندي کول، نازوي. ما دا تير ۴۰ کاله د يوه آزاد ژورنالست په توګه خپلو خلکو او وطن ته خدمت کړيدی. ته به هغه وخت هلکی وې خو که ستا والد صاحب او ترونه، خصوصاً که په پاکستان کي مهاجر پاتي شوي وي، زما په باب به يو څه درته ووايي.
اوس خو په يوه کوچني خاطره چي لوستونکوسره مي د ملا محمد عمر آخوند په باب ليکلي خبري کوو، خو بايد درته ووايم چي مخکي له ډاکتر اشرف ِغني نه تيرو درو حکومتونو په شمول د طالبانو زما څخه غوښتي چي ورسره کار وکړم او زه نه يم حاضر شوی. اوس هم دلته څو راډيو تلويزيونو زما څخه غوښتي چي مشري يې به غاړه واخلم، خو هو مي نه دي ورته ويلي. ما د بی بي سي نوم هم په خپله ليکنه کي نه دی اخيستی او نه به حاضرشم چي د نطاقي دوره له سره شروع کړم، نو زه نه پوهيږم چي ولي تاسو ته داسي تشويش در پيدا شوی چي زه اوس هم زما د ۳۳ کالو د وظيفي تر اثر لاندي يم او ليکي: « اوس چه د تقاعد په توګه د نوموړی سلطنتی راډيو څخه ګوښه ياستی هيڅ ضرورت نلری چه بياهم دې مغلق سياسی او اجتماعی پديدو ته په همغه رسمی نظر وګوری»
الحمدو لله زه هيڅکله مجبوره شوی نه يم چي کار، د پيسو يا مقام لپاره وکړم. زه د خپل ژوند په دې مرحله کي غواړم چي افغانستان ته زمونږ د فرار شؤ دماغونو هغه اولادونه چي دوکتورا او يا ماستري ولري او په خپلو مسلکو کي کاري تجربه ولري، له ټولې نړۍ نه بيرته خپل پلرني ملک ته راولم چي افغانستان لپاره سياسي،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

اقتصادي او ټولنيز، حياتي اهميت لري. که زما دا پروژه پر مخ ولاړه، افغانستان به په يوه نيمه لسيزه کې له خپلو ګاونډيو نه په هيڅ برخه کې وروسته پاتي نوي. خو د وحدت ملي په حکومت کې مشکلات شته چې کله کله د ځينو لپاره د افغانستان پياوړتيا او ملي ګټو نه، نور څه ورته مخکې دي.
په پای کې ښاغلی ليکوال ما او نورو ته توصيه کوی: « تاسی او ستاسی همفکرانو ته عرض کوم چه د طالب او ملاعمر ډرامه د بل په ګوتو او قلم ليکل شوي ډرامه وه چه د تمرين مرحله ئی زموږ په تاريخ او جغرافيه کی تر سره شوه، فکر نه کيږی چه ددې ډرامې تکرار ته نور ضرورت احساس شی ځکه د بازيګرانو افکار او د ډرامې ستيج د تغير په حال کی دی بناً پر تېر طالب او تېر ملاعمر د حسرت اوښکی تويول او پدې هکله توصيه يا د ساده توب علامه ده يا د کوم بل نوی ماموريت علامه ده.»
زه په خپله د نورو افغانانو په څير زمونږ د غمجن تيرو څلور لسيزو تاريخي پيښو شاهد يم او ما په دې دوره يو آکادميک کتاب هم ليکلی چې په زرهاوو ټوکه پوهنتونو، فکري مرکزونو او لويو عامه کتابتونو په اروپا او امريکا کې تر اوسه اخيستی دی، نو پورته توصيه ځانته او « تاسی او ستاسی همفکرانو» لپاره تحقير بولم. ځکه ما د دې ليکنې په سر کې وويل « تاريخ د خلکو له کړو وړو نه ليکل کيږي او دا چه يوه ډله او شخص لکه طالبان او د هغو مشر بيا شيږ کاله حکومت وکړي زمونږ د تاريخ يوه دوره ګڼل کيږي، بيا تاريخ د هغو (لکه نورو چې دا ۳۸ کاله راغلي او تللي دي) په هکله، بې له دې چې ورباندې رحم وکړي قضاوت به کوي». د کوم نوي ماموريت په هکله هم ما پورته وضاحت وکړ او مجبوريږم چې په عجز سره وليکم چې د ملي وحدت حکومت په موجوده کابينه کې هيڅ يو، نه زما نه ډير اکاډميک لاسته راوړني لري او نه هم وطن ته ډير د خدمت سابقه لري. نو که زه د داسې کوم مقام شوقي وای کمو خلکو به راباندې لورينه نوه کړی.
فاعتبروا يا اولی الابصار


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ